ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۳/۲۳

# بې رحمي

سپـــیره دښـــته کی ویالــه غــونـــدی بهیــــږو
تـــرېـــو بـــوتـــو وچــو شــونـــدو نـــه تـیریـــږو

زمـــــور زړونـــــه لــــــکه کـــاني د صحــرا دي
نـــه پـــه درد نـــه د چـــا غـــم بانـــدی ځوریـــږو

د ســـــخا د حکـــمتونـــو جـــوگـــه نـــه یـــوو
د دنیـــــا پـــــه نعـــمتونـــو کـــی لمبیـــږو

مـــور د خـــدای د نعمـــتونـــو اشـغالگـــر یـــو
د دنیـــا پـــه گـــنـــاهـــونـــو کـــي غـــرقیـــږو

سپین کفـــن مـــو تـــــر مـــلا پـــوری تـــړلـی
د جهــــاد پـــه نـــوم لـــه خدایـــه نـــه بیـــریږو

د رحـــمت بـــاران مـــــو نـــــه وري لـه زړونـــو
لــــکه تــــندر لـــــه آســـــمانـــه را غــوریـــږو

آدمـــي نعـــــره تـــــر خــــدا یـــــه رسیـدلـی
مـــور کـــانـــه د بـــل لـــه حـــالـــه څـــه خبـــریـــږو؟

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ